12) صديق الله ريښتين (پوهاند) ، پښتني لارښود، خپرونکی يونيورستي بُک ايجنسیِ خيبر بازار پېښور، دويم چاپ ۲۰۱۰ء ، مخ ۱۳
13) هم دغه اثر مخ ۱۴

# قلمکار او دَ هغهٔ کردار :يؤ جاج

## The Role of a Writer: A critical Analysis

Abasin Yousaf Zai*

**Abstract**:

Writer plays a key and vital role in the society through his writings. He is regarded the brain of human society. The importance of pen is very clear from the saying that pen is mightier than sword. Same is the case with writer and his role. What a writer should write and how he should have to play his role for the betterment and uplifting of the humanity, this research paper through light on the same points. In this respect the ideas of the great writers, analysts are brought out and critically analysed.

چې دَ زړهٔ نه ويني وڅڅوم بېت شي
زماني زما نقصان ته خو خيال وکړه

*Chairman Dept. of Pashto, Islamia College Peshawar

انسان دَ کائناتو مرکز او اشرف المخلوقات دی. دی یواځې دَ ژوند تېرولو توان نۀ لري. دغه وجه ده چې دَ ازل نه دَ دۀ دَ تنهائۍ لرې کولو دَ پاره دۀ له ملګری (حوا ابۍ) تخلیق کړی شو. دَ دې نه دَ اجتماعي ژوند اهمیت او ضرورت څرګندیږي. ادیب هم دَ دې ټولنې یؤ غړی وي ځکه دَ دې حقیقت نه انکار نۀ شي کېدی چې ادیب او ټولنه دَ یؤ بل دَ پاره لاژم او ملزوم دي. دَ یؤ بل نه بغېر نیمګړي دي او که چرې په نورو ټکو کښې ووئیلی شي نو دَ دوئ دَ یو بل سره نۀ پرېکېدونکې رشته ده.

په دې حواله پروفېسر جهانزېب نیاز لیکي:

"دَ دې نه څوک انکار نۀ شي کولی چې ادیب هم لکه دَ معاشرې دَ نورو افرادو په شان یو فرد وي. هغه دمعاشرې پېداوار وي وي. په معاشره کښې پېدا شوی، تربیه شوی او لوېدلی وي. هغه دَ معاشرې دَ مزاج محاسنو او معائبو نه ښۀ خبر وي او هیڅ شی دَ هغۀ نه پټ نۀ وي.........

تر څو چې دَ ادیب دَ ذمه وارو تعلق دی. دَ ادیب اندازِ فکر مثبت په کار دی. هغه دې ضرور دَ خپل چاپېرچل وفادار وي. هغه دې زړۀ ور وي، هغه دې منصف وي، هغه دې ژرف بین وي او دَ ټولو نه زیات دې هغه حقیقت پسند او دَ پاکیزه ذهن خاوند وي. "

پروفېسر جهانزېب نیاز وړاندې دا هم لیکي:

"دَ ادیب وړومبۍ ذمه واري دَ معاشرې اصلاح ده. دا ډېره لویه ذمه واري ده. او دغه کار سر ته کولو دَ پاره دَ ادیب څخه صرف یوه وسیله ده. هغه صرف دَ ادیب قلم دی. دغه قلم که هغه په ذمه وارۍ سره استعمالوي نو معاشره په سمه لاړ اچولی شي. او که دَ هغۀ قلم دَ ترغیباتو او لمسې ښکار شي نو بیا دَ ادیب نه خطرناک فرد بل نشته. خو ادیب بیا هم ادیب وي. دَ هغۀ قلم په یو څو ټکو نۀ شي خرڅېدی. هغه په دې پوهیږي چې دَ هغۀ دَ سیاهۍ قدرو قیمت دَ شهید دَ وینې نه افضل دی. "*

لکه دَ ټولنې دَ عېبونو دَ اصلاح وړومبۍ ذمه واري دَ ادیب په سر راځي ځکه رښتونی ادیب چرې هم دَ ذهني عیاشۍ بې احتیاطي نۀ شي کولی یعنې دَ ادیب قلم دَ وسلې په

مثال دی څۀ رنګه چې دَ يؤ ملک عسکر د وسلې په وسيله دَ وطن دَ بريدونو ساتنه کوي، دغه رنګ قلمکار دَ قلم په وسيله دَ ذهنونو او روحونو څوکيداري کوي. که چرې اديب دغه وسله دَ خپل فرض ادا کولو بر عکس استعمال کړي نو دَ دې نه زيات خطرناک عمل نۀ شي کېدی خو اديب/ قلمکار ته دَ خپل قلم دَ عظمت احساس وي. هغه پوهيږي چې دَ هغۀ دَ قلم نه وتې سياهي دَ شهيد دَ وينې نه هم زياته مقدسه ده. ځکه لالچ او مفاد پرستي دَ دۀ خوا ته نۀ شي نزدې کېدی. هم دا وجه ده چې دی نۀ دَ نار پروا کوي او نۀ دَ دار. هم په دې سوب دَ ټولنې دَ تعمير او ترقۍ دَ پاره څوک قلمکار دَ ربنتيا ليکلو نه نۀ شي منع کولی.

دَ اديب دَ دې منفرد حېثيت په حواله سېد رسول رسا ليکي:

> "په شاعر او عام سړي کښې فرق دا دی. چې عام سړدی خپلې مشاهدې، تجربې، احساسات او جذبات نۀ شي ظاهرولی. خو ليکوال له الله پاک دَ بيان اثرناک انداز ورکړی وي"*.

څۀ منظر، پېښه يا واقعه ټول خلق ويني. څۀ خلق ئې په خپل رنګ کښې زباني ذکر وکړي خو شاعر يا ليکوال هغه منظر، هغه واقعه، هغه پېښه د حُسن او جمال، رابنکون او درد په جذبو کښې داسې راونغاړي چې دَ هغې واقعې وړې وړې خبرې هم خلقو ته واضحه شي. په داسې حال کښې دَ خلقو جذبې راپاربېدل لازمي وي ځکه دَ دنيا هر لوئی اديب تل دَ خپلې دې خوبۍ او خاصيت نه په ډېر سخاوت دَ انسانيت دَ ښېګړې کار اخلي.

مستېر شبلی دَ شاعر دَ عظمت بيان څۀ په دې ډول کوي:

ترجمه: "شاعر دَ ګونګۍ دنيا خلقو ته دَ خبرو چل ښائي... شاعر دَ دنيا خلقو ته دَ سمي، دَ سياست او دَ مهذب ژوند درس ورکوي. شاعر دَ غريبو خوارو او نادارو مدد ګار دی. او دَ باطل او دَ ظلم سره هر وخت دَ حق په پره کښې جنګ ته تيار دی. شاعر دَ وطن مړو خلقو کښې دَ غېرت روح واچوي. او دَ وطني جنګ او ازادۍ دَ پاره خلق سر په تلي مېدان ته راوباسي. دَ شاعر دَ خُلې دَ تعريف دَ پاره دَ هر چا زړۀ تخنبږي. شاعر يو سپاهي دی، يوسياستدان دی، يو قانون ساز دی، يو مصلح دی، غرض دا چې دَ

بنيادم لوئی خېر خواه او لوئی محسن دی. او ولې به نهٔ وي. دَ شاعر لاس کښې دَ انساني جذباتو دَ راوچتولو او په يو کار باندې دَ اماده کولو تارونه دي" *.

شاعر کله دَ اخلاقو معلم دی. کله دَ تهذيب علمبردار، کله دَ فطرت ثناخوان او کله صوفي بزرګ لنډه دا چې دَ هر چا زړهٔ ته سر ورښکاره کوي. او دَ هغهٔ جذبات معلوموي. او نورو خلقو ته دَ هغهٔ جذبات داسې رسوي لکه چې خپل جذبات ئې وي.

خنجر چلی کسی پہ تڑپتی ہیں ہم امیر
ساری جہاں کا درد ہماری جگر میں ہی

دوېمه خاص خبره دا ده چې اديب بې شکه دَ خپل وخت پېداوار وي ځکه دَ خپل وخت دَ ټولنيزو حالاتو دَ اثر نه خپله لمن نهٔ شي راټولولی خو بيا هم دی خپل معيار اوچت ساتي. فرېډرېک شېلر خپل يو دوست ته په خط کښې ليکي چې دلته ترې د دَ رسا صېب دَ ليک (ترجمې) په حواله استفاده کوو:

ترجمه: "بې شکه فنکار دَ وخت پېداوار وي. که چرې دی دَ وخت غلام او مداح جوړ شي نو بيا دې په دهٔ لعنت وي." *

دغه وجه ده چې رښتونی اديب د ځان نه د وخت بچی نهٔ جوړوي بلکې وختونه بدلوي او د مثبت قدرونو په روزنه او پالنه کښې خپل ځلنده کردار ادا کوي. هغهٔ ته پته وي چې کله په ټولنه کښې ژوند تېرول وي نو د حقوقو او ذمه وارو يعنې څهٔ ورکړه او څهٔ واخله، اُصول به خپلول غواړي. دا په دې چې په دې ډول په ټولنه کښې د تحفظ احساس پېدا کېږي. د دې نه دا ثابتېږي چې امن (ځوکالي) د ټولنې د ټولو نه وړومبی ضرورت دی. په دې وجه د اديب کار دا دی چې په ټولنه کښې د امن او وروروليـ پېغام عام کړي او دغه دې خپله وړومبۍ ذمه واري وګڼي. دا په دې چې ادب د ژوند تصوير دی، د ژوند تفسيردی، د ژوند تعمير دی او د ژوند تنقيد دی او د ټولنې د جوړښت د پاره امن يقيني کول د دهٔ وړومبۍ ذمه واري ده ځکه چې اديب په هوا بند ډبې کښې ژوند نهٔ تېروي. هغه چې په کومه ټولنه کښې وسيږي، د هغې د نبض او د زړهٔ د درزا نه به پوره په پوره خبر وي ځکه دا ضروري ده چې دی به د خپلې ټولنې د خلقو ذهنونه داسې

رغوي چې هغوي د امن، مينې او ورورولۍ علمبردار شي. که مونږ چرې غور وکړو نو د انسان د ژوند په وړومبو دورونو کښې به انسان د ځناورو نه ويرېدو خو په ننني جديد مهذب دور کښې انسان د انسانانو نه ويرېږي. انسان چې څومره ترقي کوي هغه هومره د کورونو دېوالونه وچتوي. د ځان نه مضبوطې قلعه ګانې راتاوهي. د خپل حفاظت د پاره نوې وسلې او اوزار راټولوي. د نړۍ اکثر هېوادونه زياته خرچه په وسلو او په خپل حفاظت کوي او نور انساني مسائل چې خرچه په هغې په کار ده، هغو ته شا کوي. د دې نه تاسو اندازه ولګوئ چې په دنيا کښې د تحفظ احساس څومره کم شو دی او د اشرف المخلوقاتو ټولنه د ځنګل نه زياته هېبت ناکه شو ې ده ځکه د امن ضرورت انسان ته ورځ تر ورځ زياتيږي او دا کار چې څومره د ادب نه اخستی کېدی شي. په بله لاره ګران ښکاري. دغه وجه ده چې د هرې زمانې اديب په دې زيار اخته دی او دا ګنړي چې د مثالي ټولنې بنيادونه د امن په غېږه کښې پاځۀ ودرېږي. د نن د اديب ذمه وارۍ د پخوا نه څو چنده زياتې شوې دي. دا په دې چې انساني ټولنه د تاريخ د بدترين دور نه تېريږي. په خاصه توګه چې په کومه سيمه کښې چې مونږه وسيږو. دلته حالات خراب نه بلکې تباه دي. کله چې تهذيب دې حد ته ورسي. چې مذهبي مقامونه، جنازې، مدرسې، مزارونه، حجرې، جرګې او د وادۀ جنجونه د ترهه ګرۍ ښکار شي. په بازارونو او سړکونو کښې قتلِ عام شروع شي. په زرګونو مياندې د خپلو زامنو، کونډې د خپلو خاوندانو او خوېندې د خپلو ورونړو په مړو په چغو چغو ژاړي. په دې حال کښې چې هم څوک د امن، ورورولۍ او عدم تشدد د پاره چغې وهي نو پوهه شه چې شاعر او قلمکار ژوندی دی. د انساني شرف دعوېدار او پېرو کار شاعر د اخري بنيادم د ژوندي پاتې کېدو پورې هم د انسانيت نه مايوس نۀ دی.

د ادب عمومي موضوع انسان دوستي، امن او ورورولۍ له وده ورکول دي. د انساني شرف دفاع کول او انسان د طبقاتي استحصال نه بچ کولو غوندې نازکې او اهمې ذمه وارۍ سر ته رسول د اديب کار دی خو اوس دۀ ته د انتها پسندۍ او شدت پسندۍ مخ

نیودی هم کول دي او بیا نن سبا په دنیا کښې چې د وینو تویولو او د یو بل وژلو کومه هوا را الوتې ده . د دې نه زیاته کومه موضوع کېدی شي چې ادیب ځان ته راکاږي.
د شعر او شاعرۍ د عظمت په هکله حنیف خلیل د اجمل خټک یوه وېنا رانقل کوي:
"شعر او ادب بیل شی دی او وعظ او نعرې بیل شی دی. زۀ چې شعر او ادب دَ ژوند دَ ترقۍ او ښکلا دَ پاره یو اهم عامل ګڼم.... نو هغه شعر او ادب ګڼم. چې دَ شاعرۍ، ادب او فن..... حسن اظهار په معیار اوچت او اعلی وي... هغۀ کښې دَ جاذبیت ساحري او فنکاري وي... دومره ښکلا او اثر دې وي پکښې چې دَ لوستونکي یا اورېدونکي ذوق تېزولی شي. زړۀ او روح ته ئې ورسېدی شي او اورېدونکو کښې تحریک پېدا کولی شي. دَ شعور تهـ خانو ته رسېدی شي.... او دَ ادب دَ تنقید په معیار پوره تللی وي. څوک چې ژوند او ادب کښې تعلق پېدا کول غواړي او کوم خلق چې ادب دَ اولسي ژوند عکاسي ګڼي. هغوئ دا هیچرې نۀ وائي چې دَ ادب فني معیار دې راوغورزېږي. هغوئ که وائي نو صرف دا وائي چې ..... که فن په دې نۀ خرابېږي چې دَ یو خیالي لیلیٰ په بېلتون کښې دې ساړۀ اسویلي دَ شعر په جامه کښې بیان شي نو په دې څنګه خراب شي چې دَ یو ښکلې پېغلې په وجود دې دَ بدې ورځې شلېدلې جامې دَ شعر و فن موضوع شي....... که یو شاعر په موهومه دنیا کښې دَ خپل زړۀ نه زرګونه ټوټې جوړوي. او څۀ اخوا غورزوي او څۀ دې خوا او په دې فن نۀ خرابېږي. نو په دې ولې خراب شي چې یو فنکار دې دَ خپل اولس دَ اکثریت بدحالي بیان کړي او یو حساس زړۀ ته دې حرکت ورکولو کوشش وکړي. چې انسان دَ بدحالۍ مرض او جهل نه دَ ښکلا، صحت او علم دنیا ته ورسي. یعنې سوال دَ فن نۀ دی. په فن خو مونږ هغې بلې پرې نه زیات زور راوړو. سوال دَ موضوع دی. سوال دَ دې خبرې دی چې ایا فن چې ذوق او شعور ته خوراک ورکوي نو د وهم دَ دنیا، دَ خیالي جنت، دَ خوب او نشې دَ ښاپېرو دَ تصور، دَ زلفو ټالونه او دَ دروغو دَ شونډو

جامونه دې ورته پېش کوي او آيا بس په دې فن معيار قائم پاتې کېدی شي؟"*

د شعر او شاعر د ذمه وارو په هکله خوشحال خان بابا ليکي:

"خلق خوښ په خوب اوده وي دی بې
خوبـــــــــــــــــــــــه
دَ پالنګ دَ پاسه خوب وي پرې مهال
سر هوا لکه تبږن هسې وئيږي
دَ خپل ځان سره خُلۀ پټه ځواب سوال
پټ په پټه وبله اوږي تر صباحه
دَ ښۀ لفظ دَ ښۀ مضمون په اتصال
چې دَ شعر فکر ورشي په مجلس
کښـــــــــــــــــــــې
نور عالم خنده هوس که دی ملال
چې دَ شعر فکر ورشي په مانځۀ کښې
دَ اعوذ ذال بدل کاندي په دال
چې دَ شعر فکر ورشي په خوارۀ کښې
سپيني وريژې په مزه شي ورته ګال
کۀ دَ شعر مذمت عيبونه ډېر دي
دا هنر دَ شعر ښۀ لري اقبال
چې دَ شعر په سبب سره يادېږي
کۀ حسن دی که خسرو دی که کمال
دانائي علم و حکمت پکښې زياتېږي
څوک چې ښۀ وکا دَ شعر استعمال
شعر کار دَ هر فاسق دَ فاجر نۀ دی
نۀ دَ هر يوۀ ورېسترګي دَ کنګال

شعر کار یا دَ سالک یا دَ مالک دی
دَ عاشق دی دَ دردمند دی دَ ابدال
دَ هغهٔ شاعر دانې وشه په ژبه
چې دَ شعر دُردانې پلوري په مال "*

سېد رسول رسا صېب لیکي:

"دَ شعر او ادب مثال دَ حُسن دی. څوک په ښکلي مخ په دلائیلو نۀ مئینېږي. نۀ ئې عقلي تجزیه کوي. حُسن یو اثر دی. چې په زړۀ سم دَ واره اثر کوي. عبدالقادر خان خټک وائي:

حُسن یو اثر دی چې دَ چا په مخ کښې
وشي
نۀ هغه چې کړۀ وړۀ ښۀ لري صاحب
جمال دی"*

وړاندې لیکي:

"شاعر پېدائشي حُسن پرست وي. او په حسین څیزونو مئین وي. هغۀ د بُلبُل زړۀ ځان سره د ازل نه راوړدی وي. هر ګل ته چې ګوري نو د هغۀ لطیف عاشقانه جذبات را لړزیږي. او هغه د دې را لړزېدلي جذباتو شاعرانه اظهار کوي. حُسن د کائنات په رګ و رېشه کښې چار چاپېره پرېشان او منتشر پروت دی. د شاعر حُسن بیني سترګې لکه د مقناطیس د منتشر حُسن ذرات راټولوي. او دې حسینو ذراتو ته ترتیب ورکوي. دا منظوم کوي او لکه د ملغلرو د هار ئې په شاعرانه الفاظو کښې پېري. "*

ادیب، پوهه، بلونکي او اندازه ساتونکي او باریک بین بنیادم ته وئیلی شي. په اصطلاح کښې په ادبي علمونو پوهېدونکي او د دغې علمونو د اصولو مطابق نظم یا نثر لیکونکي ماهر ته چې په رائج شوو علمونو عبور لري. یا کم نه کم په هره موضوع

څۀ نا څۀ درک ضرور لري، هغۀ ته وئیلی شي. د يۀ اديب سره په خلقو د اثر کولو د پاره د ټولو نه غټ دلیل اعلیٰ معیار وي لکه د ګلونو امېلونو خرڅولو والا ښائسته ګجره، لړۍ یا امېل جوړ کړي نو خلق ئې ترې ډېر په خوشحالۍ اخلي. کله کله ورله انعام هم ورکړي. دغه رنګه اديب د ښائسته ټکو، جملو او خیالونو امېلونه جوړ کړي چې پرې د خلقو نه ډېره داد ګیرنه هم وصول کړي او خپلې نظريې د لفظونو د بندش ترتیب او هُنر په وسیله په دومره اثرناک ډول پېش کړي چې په خلقو ښۀ هم ولګي، خلق ئې یاد هم ساتي او د هغې د خپرونې د پاره په شعوري او لاشعوري ډول هڅه هم کوي.

د شاعر د مزاج، تخیل، عظمت او اهمیت په هکله د حمزه صېب دا منظوم تجزیه ګورو اومخکښې ځو. د شاعر نظم یوه ټوټه:

"په مزاج متلون په لوړتیا لکه فلک
همه ژوند ئې په ګردش سرګردان لکه پتک
پوئدی دَ ستورو په زبان په ساده فطرت ملک
آئینې غوندې ګویا خو حېران او بې درک
نو وي په خوب کښې به اودۀ یا په ویښه وینې
خــــــــــــــــــــــــــــــــــــواب
په احساس لکه حباب په بخشش لکه دریاب
کۀ وي زوړ په زلمیتوب زړبوډی، کښې وي زلمی
بس خودی دَ خپل شباب وي یو سترګی اسوېلی
ګویا اوښکه ده دَ قام چې پیرلې په بانۀ
نۀ ئې ځائی شته په زمین نۀ ئې ځائی شته په
لېمــــــــــــــــــــــــــــــــــــۀ
دَ قام ژبه دَ قام خُلۀ دَ قام درد او دَ قام سوی
د قام عقل خو د قام په نظر کښې لېونی
لکه شمع د خپل قام انجمن کړي منور

خــو پــه خپلــه لکــه دود لــه مجلســه وي بهــر"*

زما د رائی مطابق تخلیق کار د یو دهقان /مالیار په رنګ وي چې رنګ په رنګ ګلونه، مېوې او فصلونه کري، زرغونَوي او ربېي. دَ یو تحقیق کار مثال په شګو چڼولو چڼولو کښې دَ سرو زرو لټولو والا په شان وي او دَ تنقید کار (نقاد) مثال داسې ښکاري لکه دَ شهدو مچۍ. دَ هر یو ګل سینې ته سر ورښکاره کوي. رس راټولوي، شهد جوړوي. دَ تخلیق په عمل کښې دَ فطرت مرسته کوي. بل خوا تشریحي او توضیحي ادیب مقصد دَ بېلا بېلو څیزونو خاصیتونه ښودل او نورو خلقو ته یادول وي. ادیب دَ کائنات دَ خاموشۍ ژبه وي. هغه دَ سترګو په چپه خُلهٔ ډېر ښهٔ پوهیږي. هغه دَ مخ تاثراتو له ژبه ورکوي. هغهٔ ناوئیلې او نالیدلې خبرې لیک ته سپاري او په دغسې کولو خلق په خپلو صلاحیتونو او نازکو احساستو مئینوي. هغه دَ خواهشاتو او ارمانونو تخلیق کوي. دَ اُمیدونو او هیلو اوبهٔ خورکوي. درد ورکوي خو دَ درمان د کار نه هم خبر وي. کله په راز او رموز کښې خپل مافی الضمیر بیانوي او کله ښکاره جاره بې یرې ترهې دَ رښتیاؤ نه ټولې پردې وچتوي خو یاد لرئ چې دَ رښتیاؤ په بدل کښې ادیبان په سولۍ هم ختلي دي. دَ کافر او ملحد الزامونه پرې هم لګېدلي دي. سزاګانې ئې هم خوړلې دي خو دَ دې هر څهٔ باوجود ئې دَ انساني شرف شمله هسکه ساتلې ده.
دَ یؤ فلسفي وېنا ده:

"درې رنګه خلق دَ رشتیا وئیلی او لیکلی شي، فنا فی الله صوفي، مطلق العنان بادشاه یا پېدائشي مجذوب."*

او زهٔ دا ګڼم چې په ادیب شاعر او قلمکار کښې دا درې واړه خاصیتونه موجود وي. انسان په فطرتي توګه دَ مینې امن او وروولئ لېونی دی خو دَ حالاتو جبر انساني اعصاب کمزوري کړي او انسان په مذاحمت په تباهۍ او بربادۍ خورولو او ځان ته او نورو خلقو ته په نقصان رسولو مجبور کړي. زما یؤ شعر دی:

بیـا همېشـه دَ وینـو ډوقـې کـوي
چې دَ حـالاتو طبعیـت خـراب شـي
(ډوقـې: اُلټـې کولـو تـه وئیلـدی
شي)

په داسې ناوړه حالاتو کښې د جنګ جګړې، وینې تویولو او وحشت د لارې نه د مینې ورورولۍ او خېر ښېګړې لوري ته د بنیادم راګرځولو کار ادیب کوي. کله د منطقي دلیلونو او ثبوتونو په لار، کله د جذباتو او هیجاني کېفیاتو د بیان په لار خو د انسان خېرخواه اوملګردی تل ادیب پاتې دی. یو ربښتونی ادیب چرې تنګ نظره نۀ شي کېدی او ورله په کار هم نۀ دي. هغه تل د عالمګیر سوچ لرونکی وي. انسانان خو انسانان دي. هغه د ټولو ژوندو د پاره د رحم، برابرۍ او مینې جذبات لري. خوشحال خان بابا فرمائي:

چې د خلقو نېک خواهي لري په زړۀ کښې
مبـارک شـه بادشـاهي لـري پـه زړۀ کښـې

لنډه دا چې هر ادیب د دې سوچ سره ادب تخلیق کوي چې د نورو طبقو د خلقو د ارادو او عملونو نه بې نیازه د دنیا دغه ښائسته کور د مینې او سوکالۍ جنت کړي.

**حوالې**

- نیاز، پروفېسر، جهانزېب، ادیب او معاشره، دَ نثر ګلدسته انتخاب، (مؤلفین، پروفېسر جهانزېب نیاز، پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک، پروفېسر ډاکټر شاه جهان)، ۲۰۰۰ء، ص ۱۷۲.
- رسا، سېد رسول، ادبي تنقید، یونیورسټي بک اېجنسي کابلۍ دروازه پېښور ښار، دَ چاپ کال نۀ لري، ص ۲۱.
- همدغه اثر، ص ۲۹.
- همدغه اثر، ص ۸۸
- حنیف خلیل، پروفېسر، تنقید په پښتو ادب کښې، غزنوي پبلشرز جناح روډ کوېټه، ۲۰۱۱ء، ص ۱۵۲ - ۱۵۳.
- ارمغانِ خوشحال، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، ۲۰۰۹ء، ۷ - ۸.
- رسا، سېد رسول، ادبي تنقید، یونیورسټي بک اېجنسي کابلۍ دروازه پېښور ښار، دَ چاپ کال نۀ لري، ص ۵۸
- همدغه اثر، ص ۲۰.